ع ، شیرزوی لیکوال ۲۰۰۹/۱۲/۱۲م

# په افغانستان کې مطبوعاتی او فرهنګې بهیر ته لنډه کتنه

لومړې برخه :

مطبوعات چې تر اوسه په نړیواله کچه د دیموکراسی د ارزښتونو په منځ کې د یوه ځواک په توګه وړاندیون کړی څرګندیږي. چی یوه ځوانه ، تازه ، ټولنیزه ، پیاړوئ او ډیره اغیزه ناکه پدیده ده. همدغه مطبوعاتي خپروني د ملتونو د ارزښتونو د درنې دندي تر څنګ د ښوني او روزني او د ټولنو د پوهوي او وړاند یون ستره وسیله ده .

زمونږ په ګران هیواد افغانستان ګې د خپرونو پیل د امیر شیرعلیخان د واکمنې د دویمې دورې (۱۸۶۸ ، ۱۸۷۹ ، م ۱۲۸۷ ، ۱۸۷۰) ، هجری شمسی کال کې د مطبوعاتو تر راوړلو ورسته وشوه ، چې تر دې ورسته کتابونه ، پوستې ټکټونه ، کلیزونه ، وثا یقا او جراید خپاره شول چې لومړې جریده په هیواد کې ( شمس النهار ) کابل و چې په لنډ ډول یې په پیژندګلوي نیسو .

**شمس النهار :**

زمونږ په هیواد افغانستان کې لومړې ځل په ۱۲۹۰ ه ش کال کې چې امیرشیرعلي خان دوهم ځل واکمني ته ورسید شمس النهار جریده چاپ او خپره شوه ددې جریدې قطعه او کچه ( ۸x ۱۲)

انچه مضمامین او مطالب یې په یوه ستون کې برابر خپریدل د جرېدې په بل مخ کې د شمس النهار ، څلور بیتونه ، شمیر ، ګڼه ، په هجرې قمرې سنه د خپریدو نیټه او دوه زمریان لیدل چې د هرې یوه په لاس کې د جریدې نوم او په دوه نورو لاسونو کې یې توری نیولي وي او د زمریانو پښې د ښامارانو پر لکیو ایښې او خولی یې خلاصې نیولې دي . ددې خپروني د خپریدو بر مهال په هیواد کې بله خپرونه نه و نو ځکه د لومړې توب مقام لري . دا جریده به کله په اونې کې او کله به هم په پځلس ورځو کې یو وار خپریدله په همدې توګه ( ۱۲۵۲ څخه د ۱۲۵۵ پورې ۴۰ ګڼې چاپ او خپرې شوی دي .

د کابل یو تن استوګن چې میرزا عبدالعلي خان نومیده ددې جریدې مسول مدیر پاتې شوې دي دې جریدې ځانګړې خبریالان په کور دننه درلودل ، د کورنیو او بهرنیو خپرو نو لپاره یې صفحې ځانګړی وې همدا راز بهرني خبرونه او مطالب یې هم د یو شمیر اخبارو څخه لکه ( راچپوتانه اخبار ، اخبار عالم لاهور ، اخبار انجمن پنجاب ، کوه نور اخبار ، طلسم حیرت ، لوح محفوظ او نورو څخه یې چې هغه انګریزې ، عربي ، اوردو او ترکي ژبو وو اخیستل) د بهرني مطالبو په اړه د مثال په توګه ویلي شو چې په لسمه ګڼه کې یې د لندن ، امریکا ، چین ، روس او روم په اړه خپرونه او مطالب درلودل .

په ډیره مینه

ادامه لري

ما خذ : ارشاد اورنګزیب ، افغانستان پیژندنه کابل افغانستان کال ۱۳۸۴


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ